# په افغانستان کې د تجارتي فعالیتونو پر پراختیا د بیمې اغیزې

**پوهندوی میرویس احمدزی**

د تشبثاتو د ادارې او منجمنټ ډیپارټمنټ، اقتصاد پوهنځی، کابل پوهنتون، کابل، افغانستان

ایمیل: mirwais.ahmadzai@yahoo.com

## لنډیز

د اړوند ادارو یا شرکتونو ترمنځ د ستونزو او مالي خطراتو د وېش، د وخت او زمان، کیفیت او کمیت له پلوه د مالی سرچینو د تأمین او یقیني کونې، د مالي بازارونو او فعالیتونو همغږونې او د سوداګریزو فعالیتونو ښه والی، پرمختګ او ورته نورو اهمیتونو په درلودو سره د بیمې صنعت د یوه هېواد په اقتصاد کې ډیر مهم بلل کیږي. پر یادو شویو موخوسربېره بیمه د اقتصادي فعالیتونو پرمختیا او د پانګوالو په جلب او جذب کې مهم رول لری. د دغې څېړنې پایله؛ چې له کیفی میتوده پکې استفاده شوې ده؛ بیمه د سوداګریزو فعالیتونو په وده او پرمختیا کې مهمه بولي.

**کلیدی اصطلاحات:** خدمات؛ بیمه؛ پرمختیا؛ سوداګري

# Effects of Insurance on Development of Business Activities in Afghanistan

**Asstt. Prof. Mirwais Ahmadzai**

Department of management and business administration, Faculty of economics, Kabul university, Kabul, Afghanistan

Email: mirwais.ahmadzai@yahoo.com

## Abstract

Insurance is a crucial and effective way of sharing problems and risks among related sectors, businesses and other organizations. It also helps to secure financial resources in terms of time, quality and quantity. Insurance plays a key role in facilitating financial markets, enhancing and developing business activities. In addition to these roles, insurance also contributes to the growth and improvement of economic activities, attracting capital and potential investors. This study, which used a qualitative technique, concludes that insurance is vital for the advancement and development of business and economic activities.

**Keywords:** Services; Insurance; Development; Business

**سریزه**

انسانان په فردي او ټولنیز ژوند کې له ډول ډول ستونزو سره مخ دي. ځان، مال، معنوي حیثیت، شرف، دوستي، مینه او داسې نورې مادي او معنوي شتمنۍ یې له ستونزو په امان نه دي. ستونزې د انسان له خلقت سره رامنځته شوي او له ټولنیز او انساني پرمختګ سره هممهاله زیاتې شوې دي، ورځ په ورځ نوې ستونزې هم رامنځته کېږي.

انسان د ژوندي پاتېدا لپاره، تل له ستونزو څخه د ځان د خوندیتابه هڅې کوي، همدا ډول هڅه کوي له مخامخ ستونزو څخه د امکان تر حده ځان، مال او هېواد و ساتي. د احتمالي پېښو او ستونزو رامنځته کېدو مخنیوی له پاره عالمان، څېړونکي او پوهان د مناسبو حل لارو په لټه وو. د صنعت په پرمختګ سره ستونزې زیاتېدې چې پایله کې د عالمانو له لوری تر ټولو ښه لار بیمه غوره شوه چې ذکر شویو ستونزو ته ښه حل لاره ده.

د بیمې اصلي موخه مالي خوندیتوب دی. د بیمې ورکړه او بیمه کول ددې په معنی دي «مخکې له دې چې د پېښې واقع شي، احتمالي پېښو ته چمتووالی او هم مو یادو ستونزو لپاره لازمې لارې چارې سنجولې وي». د راتلونکو احتمالي او ناڅاپي پېښو په صورت کې خلک خپلې شته، شتمني، ژوند او ملکیت په ځینې کارونو کې نه بندوي چې سر او مال یې په خطر کې نه شي اما د بیمې په صورت کې د یادو خطرونو څخه د امکان ترحد په امان کې وي او خپل تصامیم په اسانۍ سره نیولی شي.

**څېړنستونزه**

د بیمې خدماتو ستونزې چې له امله یې سوداګریز فعالیتونه له ستونزو سره مخ دي، د بیمې مختلف ډولونه دي چې د سوداګریزو فعالیتونو په وده کې مهم ځای لري لکه د روغتیا بیمه، سپما بیمه، اعتبار بیمه، اسهامو بیمه، ورکړې بیمه او داسې نور.

زموږ هېواد کې په بیمې باندې د اعتبار کموالی او د بیمې اړوند مناسبو فعالیتونو نشتوالی د بیمې نه پلی کېدو مهم لاملونه دي. د بیمې پرمختګ او ودې په پار اول او مهم کار په هېواد کې د بیمې په شرکتونو باندې د اعتبار او اعتماد فضا رامنځته کول دي. د بیمې د نه پلي کېدو مهمه ستونزه په هېواد کې د بیمې متخصصینو کموالی هم دی. یادو ستونزو ته په کتو سره مې لازمه وګڼله څو یاده موضوع و څېړم.

**د څېړنې اهمیت**

د بیمې خدماتو اصلي اهمیت مالي خوندیتوب دی چې یاد شوی خوندیتوب په خپل نوبت سره ډول ډول ټولنیز، اقتصادي او نورې فایدې رامنځته کوي. له کومه چې نړیوالو سوداګریزو چارو پرمختیا

کړې، د ژوند سطح لوړه شوې، اقتصادي معاملات ښه شوي همدا ډول د بیمې خدماتو هم پرمختګ کړی دی.

**څېړنموخې**

۱. افغانستان کې د سوداګریزو فعالیتونو په پرمختګ کې د بیمې د رول د کچې معلومونه.
۲. د بیمې خدماتو له څرنګوالی څخه د سوداګرو رضایت معلومول.
۳. سوداګریزو فعالیتونو کې د بیمې د عملی کېدو اندازه معلومول.
۴. د اقتصادي څرخونو په ګړندیتوب کې د بیمې پلی کېدو اندازه معلومول.

**څېړندود**

د دغه علمی مقالی په لیکلو کی له نویو او معتبرو سرچینو څخه کار اخیستل شوی دی. په دغه لیکنه کې یوپراخه علمی تحلیل (Content Analysis) ترسره شوې او په وروستی برخه کې یې د افغانستان لپاره او د شرایطو او د هېواد د اقتصادي حالت مطابق سپارشتنی هم شوی دي.

**د څېړنې مخینه**

په نړۍ والو سایتونو کې د سوداګریزو فعالیتونو په پراختیا کې د بیمې رول تر عنوان لاندې د افغانستان اړوند هیڅ معلومات نه وو. د څېړونکو له لوری هېڅ ډول اساسی څېړنې په دې اړوند نه دي شوې البته له هېواده بهر د بیمې اړوند مختلفې څېړنې تر سره شویدي.
له یادې جملې څخه لاندې څېړنو ته اشاره کوو:
حیدری پور « پر اقتصادي وده د مالي باراز د پراختیا د اغېز ارزونه» تر عنوان لاندې په ۱۳۴۵-۱۳۸۶ کلونو کې څېړنه په ایران کې تر سره کړیده چې په هغې کې د مالی پراختیا له دوه شاخصونو کوچنی اقتصاد او لوی ماډلونو څخه استفاده شوې ده چې مالی شاخص یې په لنډ مهال کې په اقتصادي ودې باندې منفي اثر لري( حیدری پور، ۱۳۴۵-۱۳۸۶، ص ۱۱۳).
د اقتصادي ودې او بیمې بازار کې فعالیت تر عنوان لاندې مقاله چې له نړیوال تحلیل او تجزیی څخه یې کار اخیستی، نوموړې مقاله کې د بیمې بازار ودې، عمر له تراکم، اقتصادي ودې او نفوس سره پرتله کړېده. هغه هېوادونه چې متوسط عاید لرونکی دي لکه: د افریقا د صحرا جنوبي برخه کې سېما، د واقعي ګټې نرخ، ټولنیز امنیت، د ونډو بازار د معاملاتو حجم، اندازه او منځنی اړیکو نسبت ته په کتو سره په اقتصادي ودې باندې د بیمې بازار رشد مثبته اغېزه لری، ولې په پرتله یې هغه هېوادنه چې کم عاید لرونکي دي د لاتین امریکا په شمول د عمر بیمې بازار په اقتصادي ودې مثبت اثر ښایي. د نورو

شرايطو په اضافه کولو سره د ژوند د بيمې بازار وده او اقتصادي پرمختګ شايد مبهم و اوسي او همدا ډول د عمر بيمې بازار کې تغيرات د اقتصادي ودې د تغيراتو سبب کېږي(چن، ۲۰۰۵،ص ٦۳).
دلالی خانی خپله څېړنه (د اقتصاد پر وده د مالي واسطو اغېز) تر عنوان لاندې چې د اشتباه سموالی لپاره کارول او جوهانسن له روش څخه پکې استفاده شويده داسې ليکي چې ّ ايران کې مالی وسايط او اقتصادي وده خپلمنځي منفی اړيکه لری( خانی، ۱۳۸۷، ص۳٦).

**د بيمې مفهوم**

په ورځنيو مکالمو کې د بيمې لغت زيات کارېږي، چې ځينې ويونکي يا ليکوال د ياد لفظ لغوي معنی نظر کې لری لکه ( د واکسيناسيون کلمه کې چې د ماشومانو د خطرناکو او وژونکو ناروغيو مقابل کې بيمه) مګر په نورو مواردو لکه د بيمې صنعت، بيمې قانون، بيمه او په اقتصادي پراختيا يې کې رول ، بيمه او په اسلام کې يې حکم او همداسې نور اصطلاحات لکه بيمه کوونکی، بيمه شوی، بيمه ليک، او حق البيمه اصطلاحي معنی ورکوی. چې د بيمې حقوقي او قراردادی مفهوم ته ويل کېږي( جمالی زاده، ۱۳۸۰، ص ۲۳).
بيمه د بيمه کوونکي او بيمه کېدونکي تر منځ يوازې حقوقي اړيکه نه؛ بلکې د بيمې شتون له حقوقي اړخه هم مهم دی. د بيمې پراخ او مجموعي اهميت د زيانمنو شويو خلکو له همکارۍ پرته بل څه نشي کېدای. بيمه د دواړو مشترکينو له همکارۍ او لحاظ ساتلو پرته ناممکنه ده ځکه د بيمې ثبات او ټينګښت يوه اجتماعي اړيکه ده چې په فنی لحاظ د بيمې په نامه يادېږي.

**د بيمې لغوي معنی**

د ليکونکو له لوري د واحد او واضح نظر نشتوالی له کبله د بيمې لفظ په اصل کې دری، فارسی، روسی او يا هندی نه دی. ځينې ليکوال په دې باور دي چې ياده کلمه د اردو او هندی له «بيما» څخه اخيستل شويده چې لغوي معنی يې ضمانت ده(معين، ۱۳۷۸، ص ٦۳۳).
علامه دهخدا وايي چې ياده کلمه هندی ريښه لري ځکه چې بيمه « د م په زير او يا زور) درلودلو سره له هندی ژبې اخيستل شوي ده چې د ځانګړي ضمانت معنی ورکوي. په دې خاطر چې شخص يا مال په مياشتنۍ بڼه معلوم مقدار روپۍ د بيمې شرکت ته ورکوي او زيان په وخت کې شرکت معين مقدار بيرته پرې کوي( دهخدا، ۱۳۷۲، ص ۴۵۸۸).
ځينې نور ليکوال د روسي «استراخوانی» کلمې ته چې د ويرې او ډار ضد په معنی ده ربط لرونکې ګڼي. ځينې نور ليکوال د ابواسحاق ابراهيم اصطخری «مسالك و ممالك» کتاب ته په کتو سره وايي چې ياده کلمه فارسی او طبرستان او ديلوم کې د يوې منطقي نوم ده. په دې دليل چې بيمه د خطر څخه

ویره ده یو تعداد لیکوال وایي چې یاده کلمه خالص فارسی او بیم څخه اخیستل شوي چې د ویرې په معنی ده(صالحی ، ۱۳۸۱، ص ٦٧).

د بیمې کلمه د بیم په ریښې سره چې د ویرې معنی لري په دې کې ده چې بیمه کیدونکی د زیان له ویرې ځان ساتلو په مورد د بیمې قرار داد کوي. اما فرهنګ ته په کتو سره ویلي شو چې د بیمې لفظ په فارسی ادب او تاریخ کې کوم ځانګړی ځای او تاریخ نه لري. د یو معتبر کتاب ( انجمن آرای ناصری) په نامه چې د ناصر الدین شاه او برهان قاطع په زمانه (۱۰۲۴ هـ ش) کې لیکل شوی د بیمې لفظ نه دی لیکل شوی. د بیمې معادل کلمه د انګلیسی Insurance او عربی آلتامین څخه استفاده او رواج وو(جهانشاهی ، ۱۳۳۴و شماره؛ ۴۲).

که د بیمې لفظ د ریښیې اختلافاتو له کتو صرف نظر وکړو دې پایلې ته رسیږو چې یادې کلمې معنی او مفهوم یو دی. چې هغه د سازمان او یا ډلې ضمانت او تضمین دی څو د پېښېدونکو زیانونو او مشکلاتو څخه په آمان کې ژوند وکړي. بنا په لړ توپیر سره ویلاي شو چې بیمه په نني عصر کې په زیاتو ژبو کې یوه معنی ورکوي چې په ټوله نړۍ کې د احتمالی تاوانونو د زیان جبرانیدل دي(جمالی زاده، ۱۳۸۰، ص ۴۲).

**د بیمې اصطلاحی مفهوم**

باید ومنو چې د بیمې لپاره واحد او جامع تعریف نشته ، اما د بیمې ساده او مختصر تعریف چې د بیمې مفهوم وړاندې کوي عبارت ده له: بیمه د خطر د انتقال روش ته وایي. د افغانستان د بیمې قانون په اوله شماره دریمه ماده کې چې په ۱۳۸۷ کال کې تصویب شوی بیمه داسې تعریفوی: (بیمه د بیمه کوونکی او بیمه کیدونکي ترمنځ لیکلی تړون ته ویل کېږي چې بیمه کوونکی د بیمې د معین حق په مقابل کې د معینو خطراتو تاوان په ورکړې تعهد کوی.) شخص ته بیمه کېدونکی او شرکت ته بیمه کوونکی او هغه مقدار روپۍ چې بیمه کېدونکی یې بیمه کوونکی ته ورکوي د بیمې حق یا حق البیمه بلل کېږي( آقا عباسی، ۱۳۹۲، ص ۱۱).

**بیمه کوونکی**

د بیمې قانون په دویمه شمیره دریمه ماده کې بیمه کوونکي داسې تعریفوي: ( بیمه کوونکي هغه حکمي اشخاص دي چې د قانون مطابق تاسیس او جواز یې د مالیې وزارت څخه تر لاسه کړي وي) په دې اساس بیمه کوونکی باید حقوقی او حکمی شخص وي نه حقیقی او طبعی( عبدالحکیم ، ۲۰۰۸، ص. ۹۲-۹۱).

**بیمه کېدونکی**

د بیمې قانون په څلورمه شمیره دریمه ماده کې داسې لیکل شوي ( بیمه کېدونکی حقیقي یا حکمي شخص دی چې د خپل ځان او مال د نفعې په خاطر د بیمې تړون کوی) ددې تعریف په پامنیوي بیمه کیدونکی د بیمې غوښتونکی، بیمه شوی او بیمې ګټې اخیستونکي ته ویل کېږي، چې ځینې وختونه شاید ټول صفتونه ولري (عبدالرازق، ۲۰۰۸، ص۱۱۷).

**الف:** د بیمې غوښتونکی: د بیمې له اړخونو څخه یو دی چې د بیمې تړون امضاء کوونکی، د بیمې حق ادا کوونکی او بیمې اړوند د تړون نورې مادې پر غاړه اخلي. یا هغه شخص دی چې د بیمې وړاندیز ترتیب او امضاء کوي او وروسته یې د بیمې شرکت ته تسلیموي.

**ب:** بیمه کوونکی: عبارت له هغه شخص څخه دی چې د بیمه شوي/ بیمه کیدونکی د ځان یا مال خطر د قرارداد په بنه پر غاړه اخلي.

**ج:** ګټه اخیستونکي: هغه شخص ته ویل کېږي چې تر بیمې وروسته د پېښیدونکی خطر تاوان د بیمه کوونکی څخه تر لاسه کوی.

ځینې وختونه شاید درې واړه صفات په یو نفر کې موجود شي لکه: د کور مالک خپل کور د اور په مقابل کې بیمه کوي. په دې حالت کې د کور څښتتن بیمه غوښتونکی ده ځکه چې د بیمې تړون یې جوړ او امضاء کړی. همدارنګه د بیمې اړوند ټول موارد یې په خپله غاړه اخیستي نو عهده دار شو او همدارنګه که د اور خطر منځته راځي د بیمې شرکت له لوری د بیمې څخه ګټه اخستونکی هم ده. مګر په ټولو وختونو کې یاد صفات او مسؤولیتونه په یو شخص کې نشي موجودیدای.

د بیمې حق یا حق البیمه

د بیمې حق هغه اندازه پیسو ته ویل کېږي چې بیمې په مقابل کې د بیمه شوی له لوری پرې کېږي. یا په بل ډول د بیمې حق عبارت له هغه پیسو څخه دی چې د بیمه شوی شخص یا اداري له لوري په یو ځل یا قسطی بڼه د احتمالی پېښیدونکو خطراتو مقابل کې د بیمې شرکت ته ورکول کېږي. د افغانستان بیمې قانون په پنځمه شمیره او دریمه ماده کې د بیمې حق داسې تعریف کړی: د بیمې حق هغه مبلغ دی چې بیمه کوونکی د بیمې تړون په مقابل کې بیمه کوونکی ته ورکوي( بابایی، ۱۳۹۰، ص ۹۸).

**د تاوان ورکړه**

د تاوان ورکړه چې په عربی کې د مبلغ التامین په نامه یادیږی، عبارت د هغه مال څخه ده چې بیمه کوونکی یې د پېښیدونکي تاوان وروسته بیمه شوی ته ورکوي(السنهوری، ۱۳۸۹، ص ۱۱۴۸).

## افغانستان کې د بیمې رامنځته کیدل

په افغانستان کې د بیمې صنعت باید له هغه وخت راهیسې مد نظر ونیول شی له کومه چې یاده موضوع په قوانینو، مقرراتو او لوایحو کې درج شویده. په دې اساس ویلی شو د افغانستان د بیمې قوانینو په نظر کې نیولو سره ووایو چې بیمه په افغانستان کې له تېرو شپیتو کالو راهیسې کارول کېږي چې په اول ځل په ۱۳۳۴ هـ ش کال د افغانستان د تجارت قانون په دیارلس فصلونو کې چې د نهو څېرکیو او شپږاویا مادو لرونکې وو ځانګړی شوی وو.

د بیمې قانون په قانون ګذار کې د ۸٦٦ مادې څخه شروع تر ۹۴۲ مادې پورې ده، چې د مالونو بیمه، اور، ترانسپورت، ژوند، حادثې، کرنه او غلا په کې شامل وو. په دې سربېره ویلای شو چې ددې قانون په تصویب سره په اول ځل په افغانستان کې بیمه منځته راغله، چې له دې وړاندې د افغانستان په قانونو کې د بیمې لفظ هم نه تر سترګو کېږي. دویم مهم ګام چې د بیمې اړوند اخیستل شوی افغانستان کې په اول ځل د بیمې شرکت رامنځته کیدل دي چې د افغان ملی بیمې په نامه باندې په ۱۳۴۲ هـ ش کال کې د انګلستان د ګاردین بیمې شرکت په شراکت سره منځته راغی، چې ۵۱ سلنه سهم د افغان ملی بیمې شرکت وو او باقی ۴۹ سلنه د ګاردین شرکت پورې تړلې وه، چې د شوروی اتحاد یرغل سره سم ګاردین شرکت خپل سهم افغان ملی بیمې شرکت ته تسلیم کړ.

یاد شرکت یو دولتي شرکت دی چې له تأسیس څخه تر نن پورې یې هېڅ ډول عملي اقدام نه دی کړی. صرف نوم یې شته یوازې یو کار چې یاد شرکت د خپل ژوند په دوران کې کړی هغه د بیمې قوانینو بدلون ده هغه هم د ټولنې ضروریاتو د پراختیا او ستونزو مخنیوي په پار نه؛ بلکې د مختلفو دولتونو فرمایشونه پوره کولو په اساس او بس.

## په افغانستان کې نننۍ بیمه

څرنګه چې په تېرو صفحو کې اشاره وشوه چې بیمې ترتیب او تنظیم د بیمې فعالیتونو ریاست کار دی چې مالیې وزارت پورې تړاو لری فعالیت کوی. د مالیې وزارت سایټ له مخې لیکلی شو چې یاد ریاست لاندې فعالیتونه سرته رسوي: د بیمې شرکتونو ته فعالیت جوازونه ورکول، کمیشن کاران، استازی او نورو برخو فعالیتوڅخه نظارت او ارزیابی کول دی. یاد ریاست د دوه آمریتونو درلودل، اوو عمومي مدیریتونه، دیارلس د مدیریت بستونه او یو سکرتریت. چې د ۱۳۹۱ کال کاری راپور یې په دې ډول ده:

**۱. د بیمې ریاست د کارمندانو ظرفیت لوړول**

۱. د هندوستان بیمې مؤسسې کې زده کړې کول.

۲. د بیمې یوه برخه کې د مالیزیا په عمومي پوهنتون کې زده کړې

۳. د احصایې او تفتیش برخه کې په پاکستان کې زده کړې

۴. د مالی خطرونو اړوند پاکستان هېواد کې زده کړې

**۲. پالیسی، طرحې او مقررې**

۱. د شرکتونو د فعالیتونوپه برخه کې او همدارنگه د غیر قانوني کړنو اړوند جریمو رامنځته کول.

۲. د کورني او بهرنیو شرکتونو ثبت برخه کې تغیرات رامنځته کیدل

**۳. د لاندنیو مقررو تغیر او تدوین**

۱. د روغتیایي بیمې مقرره

۲. د سوځیدنې مقرره

۳. د نقلیه وسایطو مقرره

۴. د دریم ګړو اشخاصو د بیمې مقرره

**۴. د بیمې شرکتونو نظارت او تفیش**

د نظارتي ټیم جوړول چې په ربعوار او کلني ډول د بیمې شرکتونو نظارت او ارزیابی کوي.

**۴. د څلورو شرکتونو ثبت چې د بیمې غوښتونکي و:**

۱. د تفتیش (KPMG) شرکت

۲. د رفاقت بابر تفتیش شرکت

۳. د هارت مارک تفتیش شرکت

۴. د ایرنست ای اند یانګ تفتیش شرکت

د پاکستان وګړو له لوري د جوزف لوبو بیمې خدماتی شرکت ته جواز ورکول.

د ایران اسلامی جمهوریت سره بیمې همکاریو تفاهم لیک امضاء کول.

د بیمې شرکتونو د نظارت او موثرو فعالیتونو په پار د دیتابس د مراحلو طی کول.

**۴. عامه پوهاوی**

په مرکز کابل، جلال اباد، مزار شریف او هرات ولایتونو کې تر ۱۵۰ پورې د عامه پوهاوی جلسې کول تر څو بیمه په هېواد کې عامه او خلک په بیمه باندې باور پیدا کړي.

په تعلیمي او سوداګریزو مرکزونو کې د بیمې صنعت پراختیا اړوند د ۹۰۰۰ بروشورونو نشرول.

۱. په ولایتونو کې د بیمه شویو مارکیټونو سمه سروې کول.

۲. د مناسب تکامل په پار باندې د بیمې فعالیتونو لارښود طرح کول.

د ریاست اداری تشکیلاتو ته په کتو سره یاد ریاست لایحو، مقررو او فعالیتونو مقدار نسبتا ښه دی اما د هېواد په سطح باندې یاد فعالیتونه په نشت شمار دي. اما دې ته په کتو چې په هېواد کې بیمه نوې شروع شویده، یاد فعالیتونه د یادونې وړ دي. دا چې هېواد کې بیمه په تمامه معنی پلی کول یوازې ددې ریاست دنده نه ده، بناءً د هېواد له ټولو استادانو، سیاستمدارانو او نورو لوړپوړو چارواکو او وطنوالو څخه هیله کوو څو په دې مورد کې ځان و نسپموي او خپل مسؤولیت ترسره کړي.

**د بیمې ګټې**

دا چې وارډنې ذکر وشو انسانان له پیدایښت تر اوسه هره لحظه ډول ډول ستونزو سره مخ دي چې یادې ستونزې او خطرونه د انسانانو ژوند او مال ته مضر دي. عجیبه داده څومره چې د انسان ژوند نویو امکاناتو او تسهیلاتو څخه برخمن کېږي په هماغه اندازه له نویو خطرونو سره هم مخ کېږي. بهتره ده مخکې له دې چې انسان ته پیدا کېدونکي خطرونه زیان ورسوي د بیمې په واسطه یاد خطرونه دفعه او یا هم راکم شوي اوسي. په دې اساس بیمه ټولنې ته د هر ډول ستونزو او خطرونو د مخنیوي وسیله ده، ټولنې او افرادو ته آمن، آرامي او سوکاله ژوند برابرول په غاړه لري.

**د بیمې فردی ګټې**

د ټولنې خلکو ته بیمه لاندې فردي ګټې برابروي

**أ. سوداګریزو فعالیتونو ته مالی امنیت تأمینول**

بیمه د ناڅاپي پېښېدونکو خطراتو او ستونزو پر وړاندې د تضمین یو اصل دی چې د سوداګریزو فعالیتونو د پراختیا لپاره مهم او حیاتي ارزښت لري. د بیمې پر اساس سوداګر او مؤسسات د مالی پېښېدونکو خطراتو او بی عدالتۍ څخه په امان کېږي چې په دې سره سوداګر د امن او اطمینان احساس کوي او خپل فعالیتونه د امکان تر حده زیاتوي(کریمي، ۲۰۱۰، ص ۱۲).

بیمه کېدونکي یا بیمه شوی شخص د بیمې په کم حق ادا کولو سره زیاتو پېښو او ښکار خطراتو باندې بر لاسی کېږي او پر ځای ددې چې خپله سرمایه کنګل یا بېکاره پرېږدي په پوره ډاډ سره خپله پانګه و پانګوي، چې یاد فعالیتونه د فردي او ټولنیزې اقتصادي پرمختیا سبب کېږي.

**ب. د سوداګریزو فعالیتونو او هیلو لوړوالی**

طبیعي خبره ده چې ناڅاپي خطرونه او ستونزو مخنیوي د بیمې په غاړه دی، چې دې سره په سوداګریزو فعالیتونو کې ښه والی، توانایي او پرمختګ مینځ ته راځي، چې برعکس د بیمې په نشتوالی کې سوداګر

له زياتو ستونزو سره مخ کېږي. که خلك د بيمې له ګټو څخه خبر شي په ډېر راحت او خلاصې سينې سره د بيمې فعاليتونه منی چې ورسره د دوي فعاليتونه پراخ او دوام وکړي.
کوم هېواد کې چې بيمه رواج وي او خلك يې له بيمې سره اشنا وي هغه اشخاص چې کمه پانګه لري له کومې ويرې پرته د خوښې وړ برخه کې پانګونه کوي. همدارنګه که چېرته د يو کاروبار يو برخوال مړ شي او ياد شرکت بيمه نه وي اود مړی وارثين د کاروبار څخه خپله برخه وغواړي نو نور پانګوال به ونه شي کولی څو د ياد شخص لپآره مناسبې پيسې برابرې او وارثينو ته يې تسليم کړي اما که ياد شرکت او شخص بيمه وي د مړی وارثين په اسانۍ سره کولای شي چې د هغوی برخه ادا کړي. د بيمې له شرکت څخه د تدفين او يا هم شراکت فسخې له لوري پيسې ترلاسه او خپل فعاليت مخته وړی چې د کاروبار فعاليت به له کومې وقفې پرته ادامه وکړي(جمالی زاده، ۱۳۷۸،ص ١٦٦).
د عمر، ناروغتيا، وزګارتيا او ټولنيزو مسؤوليتونو بيمه انسان هيلې او اميد قوی کوي او خپل ژوند په ارامه او ښه ډول سره مخته وړی.

**ت. د نسبی مزيت وېش کې مرسته**

د بيمې بله ګټه داده چې رامنځته کيدونکو عواملو تر منځ مصارف په ډېره ښه بڼه توزيع کېږي. په دې معنی چې هر بيمه کوونکی د پيښې شوي خطر په اندازه د بيمې حق ترلاسه کوي. د مثال په ډول توليد کوونکی، ويشونکی، مصرف کوونکی، د ترانسپورت مؤسسې، مالك او نور... د پېښيدونکي خطر په اندازه د بيمې حق تاديه کړي د خطر پېښيدو څخه وروسته هر يو خپل رسېدلي زيان په اندازه د بيمې شرکت څخه تاوان اخلی. د بيمې په نشته کې توليدوونکي او نور ټولو ته ټول رسيدلی زيان يوازې د دوي په واسطه جبران کېږي چې زيات ستونزمن حالت ده(نک، ۱۳۷۸، ص ۳٦۵-۳۷۰).

**ث. د اعتبار رامنځته کيدل او زياتوالی**

د هر حقيقی او حقوقي شخص مالی اعتبار د ياد شخص له شتمنۍ سره مستقمه اړيکه لری او ياد اعتبار تر هغه وخته وي چې دارايی وي او خپلو قرضو او ژمنو ته ځواب وويلي شي، د شتمنۍ له منځه تللو سره ياد اعتبار له منځه ځي. په نننۍ تجارت کې شايد ډېر کم يا هيڅ پېښ نه شي چې يوه معامله دې کامل په نغده تر سره شي هر سوداګر يا کاروبار د مالی اعتبار په پار نورو ادارو سره تجارتي اړيکو جوړيدو ته ضرورت لري. د نننۍ عصر د تجارتونو يو ښه والی دادی چې په تجارت کې تر ډېره له اعتباراو اعتماد څخه استفاده کېږي او د اعتبار په رامنځته کولو کې بيمه يو له مهمو وسايلو څخه شميرل کېږي( صالحی،۱۳۸۱، ص ۸۴).

همدارنگه په سوداګریزو مالونو باندې بیمه چې د حمل او نقل په جریان کې واقع کېدل د مشتریانو لپاره د اعتبار یوه ارزښت لرونکې منبع و ګرځېده.

### ج. د پانګې تشکیل او سپما را جلبول

د بیمې بله ګټه سپما کول او سرمایې رامنځته کیدل دي، ځکه چې بیمه د سپما یو ساده او عملي ډول دی چې د سرمایې په تشکیل او ترتیب کې مهم رول لوبوی. د بیمې اړوند مؤسسات د سپما په راجلبونه او د خلکو د نغدې شتمنیو د ساتنې ښه سرچینه ده. د بیمې حق چې د بیمې مؤسساتو ته ورکول کېږي په تدریجي ښه د لویو پانګو باعث کېږي او د مشتریانو د ګټو ضامن او د هېواد په ګټه ده(مازندرانی، ۱۳۹۲، ص ٦۲).

### د بیمې ټولنیزې ګټې

د ټولنې آرامی او هېواد اقتصادي هوساینې اړوند چې کومې ګټې له ځان سره لري د بیمې ټولنیزې ګټو په نامه یادیږي. چې په لاندې ډول ځینې یادونه کوو:

### أ. د پانګونې پراختیا

واضح خبره ده چې پانګه د یو هېواد په اقتصادي وده کې مهم رول لري، خو د پانګې جوړښت د پانګونې لپاره اړین دی. بیمه د سپما او پانګونې مناسبه او بهترینه لار ده. بیمې شرکتونه مالي وجه د بیمې حق په نامه د بیمې له مشتریانو څخه تر لاسه کوي او د سرمایه ورڅخه جوړیږي. د یادې موضوع اهمیت خصوصاً د ژوند بیمه کې چې اوږدمهاله بیمه ده او مشتریان باید په ټول عمر کې یو شان د بیمې حق ادا او بهتره ژوند وکړي سرمایه ګذاری نوره هم زیاته او ښه کوی( جهانشاهی، ۱۳۳۴، ص. ۴۲).

د شتمنیو او مدنی مسؤولیت اړوند تاوان بیمه د بیمې شرکت له لوري د بیمې حق ترلاسه کولو او قرارداد کولو په وخت کې معلومې مودې لپاره د احتمالي تاوانونو ورکړې مسؤلیت په غاړه لري. معمولاً د بیمې حق له ادا کولو سره جوخت تاوان ممکن واقع نه شي نو د بیمې حق تادیې او تاوان رامنځته کېدو ترمنځ شاید ډېر وخت ولګیږي.

په دې اساس چې د بیمې قرارداد او خطر رامنځته کېدو پورې ډېره موده وي د بیمې شرکت مناسب وخت لري څو یاده موده کې په یادو پیسو باندې مختلف کارونه لکه د مالي اسنادو، سهمونو خریداری، تولیدي مؤسساتو منځته راوړلو او نورو برخو کې سرمایه ګذاري وکړي او کافی اندازه سرمایه یا پیسې د بیمې حق په توګه را ټولې کړي. په دې ترتیب بیمې مشتریانو په کمو پیسو باندې بیمې شرکت کولی شي د اقتصادي پرمختګ په مورد کې زیات لوي کارونه وکړي. چې شرکت او هېواد دواړو د اقتصادي پرمختګ لپاره مناسب ګټل کېږي( عبدالحکیم، ۲۰۰۸، ص۹۲).

د پورته ذکر شویو مواردو په نظر کې نیولو سره داسې هیوادونه لکه افغانستان چې زیاتې سرمایې او بیارغونې ته ضرورت لري. بیمې برخه کې باور او اعتماد رامنځته کول اړین دي څو د هېواد مختلفو برخو او مختلفو سکتورونو کې پانګونې وشي.

**ب. د ملی شتمنیو سوخت کې کموالی (خطرونو کموالی)**

بیمې شرکتونه او مشتریان دواړه د رامنځته کیدونکو خطرونو جبران په غاړه لري، په دې اساس څو تکراري او لوي مالی زیانونه بیا بیا رامنځته نه شي څو پایله کې یې د بیمې شرکتونه، ټولنه او مجموع کې ملی اقتصاد ته زیان ونه رسیږي. د بیمې شرکتونه باید هڅه وکړي څو د مشتریانو اعتماد راجلب او د بې ځایه تاوانونو مخه ونیول شي ترڅو د خطرونو کنترول او کموالی په برخه کې دقیق او فنی کنترول وکړي چې ذکر شوي ټول لوری د بې ځایه او زیات تاوان څخه وژغورل شي( سلیمی، ۱۳۹۲، ص ٦۵).

**بیمه له درې لارو خطرونه کمولای شي**

۱. د خطر اړوند مناسب نرخ ټاکل: هر څومره چې د خطرونو مخنیوي لپاره زیات تدابیر نیول شوی وي په هماغه اندازه خطرونه کم واقع کیږي په دې صورت کې باید بیمې شرکتونه بیمه کوونکو څخه کمې پیسې واخلی.
۲. د ساتنې (حفاظت) توصیه کول: د بیمې متخصصین او مسؤولین بیمه کوونکو ته واقع کیدونکو خطرونو کموالی په پار لازمې حفاظتي سپارښتنې کوي څو بیمه کوونکي په موجوده مواردو کې له احتیاط څخه کار واخلي. چې یادې سپارښتنې د خطرونو په کموالی کې ډېرې اغېزمنې واقع کیږي لکه صحی بیمې په وخت داکتران بیمه کوونکي په کامل ډول معاینه کوي او له معایناتو وروسته د هرې برخې داکتران ورته لازمې لارښوونې کوي چې د مرض په کنترول کې ډېر موثر واقع کیږي.
۳. د خطراتو کموالی ته بیمه کیدونکي هڅول څو رامنځته کیدونکي خطرونه کم شی: بیمه کوونکي چې د بیمې شرکت اړوند کومې پیسې ورکوی چې اصل کې دوی ته کومه ګټه نه رسوي بناءً د بیمې متخصصین له مختلفو لارو څخه په استفادې سره توصیه کوي څو راتلونکي خطرونه د امکان تر حد کم شي چې په نتیجه کې بیمه کیدونکي د بیمې کم حق ادا کوي.

**ت. کاري فرصتونه رامنځته کول**

د بیمې په عادی کېدو سره په ټولنه کې کاری فرصتونه زیاتیږي ځکه بیمې هر شرکت لاندې اشخاصو ته ضرورت لري لکه: استازی، دلال، سروی کوونکی او نور عادی کارمندان. چې په پایله کې د هېواد

په سطح کاری فرصتونه زیاتیږي په تیر بیا داسې یو هېواد لکه افغانستان چې د بیکارۍ لوړه کچه لري که د بیمې شرکت فعالیت شروع کړي ترڅو د امکان تر حد خلکو ته کار پیدا شي(الزرقا، ۱۴۰۴، ص. ۱۰۳).

**مناقشه**

په دې برخه کې د خپلې څېړنې پایلې د پخوانیو څېړنو له پایلو سره پرتله کوو.

حیدری پور د (بررسی تاثیر توسعه بازار مالی بر رشد اقتصادی) څېړنه کې چې له (۱۳۴۵-۱۳۸۶ ) کلونو منځ کې ترسره شویده او د مالي پراختیا له دوه شاخصونو څخه یې په کې استفاده کړې وه، ویل چې په لنډ مهال کې مالي شاخصونه په اقتصادې ودې منفی تاثیر لری(حیدری پور، ۱۳۴۵-۱۳۸۶، ص. ۱۱۳).

د پخوانیو عالمانو په وسیله تر سره شویو څېړنو ښودلې چې ددې او نورو څېړنو ترمنځ کوم خاص توپیر نشته او همدارنگه یاده څېړنه د مناقشې وړ نه ده.

څرنگه چې د (فعالیت در بازار بیمه و رشد اقتصادی) تر عنوان لاندې څېړنې هېوادونه یو او بل پرتله کړي دي. په یاده مقاله کې د بیمې بازار پراختیا او اقتصادي ودې، تراکم او نفوذ اړیکه څېړل شوې ده. چې متوسط عاید لرونکي هېوادونه لکه د افریقایی ساحو جنوبی برخې، سپما، ټولنیز امنیت، د ونډو معاملاتو اندازه او ثابت اثرات د بیمې بازار وده او اقتصادي وده مثبته اړیکه په ډاگه کوي. بل خوا په لاتین امریکا او نورو ټیټ عاید لرونکو هېوادونو کې د عمر بیمه په اقتصادي رشد منفی اثر په گوته کوي. په پایله کې ویلي شو چې د بیمې بازار ودې او اقتصادي ودې تر منځ اړیکه مبهم شکل لري(چن، ۲۰۰۵، ص ۶۳).

دلالی خانی په خپله څېړنه ( تاثیر واسطه های مالی بر رشد اقتصاد) کې د مالی مرسته کوونکو رول د ایران په اقتصادي رشد باندې بحث کړی چې په ایران کې یې د مالی مرسته کوونکو او اقتصادي ودې ترمنځ اړیکه منفی ښودلې(خانی، ۱۳۸۷، ص. ۳۶).

پخوانیو عالمانو په واسطه تر سره شوي څېړنو ښودلې چې ددې او نورو څېړنو ترمنځ هیڅ توپیر نشته او همدارنگه یاده څېړنه د مناقشې وړ نه ده.

**پایلې**

د دغه څېړنې پر بنسټ نتیجه تر لاسه شوه چې د بیمې خدمات د سوداگریزو پلانونو په تطبیق کې موثر واقع کېږي او د بیمې خدمات د سوداگریزو فعالیتونو په سرعت کې هم مرسته کوي، د بیمې خدماتو په

مالی امنیت کې ښه والی راوستلای او همدا ډول د بیمې خدمات د سوداګریزو فعالیتونو په پراختیا کې پاموړ رول لری.

**وړاندیزونه**

۱. د سوداګریزو فعالیتونو ودې په پار د بیمې خدماتو ته پراختیا ورکول.

۲. دولت باید خلکو ته د کار زمینه برابره کړي څو د خلکو د عاید په لوړېدو سره خلک د بیمې خدماتو ته تشویق شی.

۳. په تدریجی ډول د بیمې حق ازاد رقابت ته اړول څو سالم رقابت منځته راشي.

۴. د بیمې صنعت او د بیمې اړوند علمي څېړنو تر سره کول څود بیمې شرکتونه ښه خدمات وړاندې کړي.

۵. د بیمې خدماتو عام کولو او منلو په پار عامه پوهاوی ترسره کول.

۶. د کم عاید لرونکو خلکو ملاتړ په پار د بیمې مختلف ډولونه رامنځته کول.

۷. د پیچلیو او ناعملي قوانینو اصلاح او یا لغو.

**سرچینې**

ارشدی، علی یار (۱۳۸۱). شرح قانون مدنی ایران، چاپ اول. تهران: انتشارات سایه روشن.

آسوده، محمد. (۱۳۸۳). روش های ارتقاء فرهنگ بیمه در جامعه. فصل‌نامهٔ صنعت بیمه، دورهٔ ۱, شمارهٔ, ۷۳ تهران: مرگز تحقیق علوم انسانی و مطالعات فرهنگ.

آصفی، حسیب هللا .(۱۳۹۴).چالش ها وفرصت های موجود در توسعه تشبثات کوچک و متوسط در شهر کابل (تیزس ماستری).کابل: کتاب خانه پوهنځی اقتصاد.

آل شیخ، محمد. (۱۳۸۳). اصول اساسی حاکم بر عقد بیمه از منظر حقوقی. ماهنامهٔ کانون، دورهٔ ۲, شمارهٔ, ۵۱ کرمان: پوهنتون باهنر.

.انالویی، فرهاد، کرمی، آژدر.(۱۳۸۹) . مدیریت استراتیژیک در صنایع کوچک و متوسط چاپ دوم(. تهران: انتشارات امیر.

بابایی، ایرج. (۱۳۹۱). حقوق بیمه، چاپ یازدهم. تهران: انتشارات سمت.

رهانیان، عبدالحسین. (۱۳۸٦). بررسی مبانی بیمه در اسالم. قم: انتشارات زمزم هدایت.

کریمی، آیت. (۱۳۸۹). پرسش و پاسخ جامع بیمهٔ، چاپ اول. تهران: انتشارات مرکز تحقیق بیمه.

فشار، حسن. (1۳۸۹). بیمه شخص ثالث و حقوق شهروندان در حوادث رانندگی، چاپ اول .تهران: انتشارات اندیشهٔ عصر.

مولوی، محمود. (۱۳٦۵). بررسی فقهی بیمه، چاپ سوم. مشهد: انتشارات دانشکدهٔ الهیات.

ناصری، حمید.(۱۳۸۲). مسؤلیت بیمه گذار و بیمه‌گر در بیمه های اموال. فصل‌نامهٔ حقوقی گواه، دورهٔ، ٦ شمارهٔ. ۸ قم: پوهنتون قم.

نقیبی، سید ابوالقاسم. (۱۳۷۱). عقد بیمه از دیدگاه حقوق و تعهدات. فصل‌نامهٔ رهنمون، دورهٔ ،۵ شمارهٔ .۲ تهران: مدرسهٔ عالی شهید مطهری.